مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڅ ۲۰۲۴/۰۲/۲۳

# په خوست کې د تولوژنې مړیستون

**د سر خبرې:**

دا لیکنه چې د خوست د ډلهییز مړیستون د موندلو او د هغو بېګناه او سپیڅلو دیني پوهانو، قومي مشرانو او عامو وګړو په هکله چې د وخت د مستبد رژیم لخوا په ډېر ظلم او بې‌رحمۍ سره په شهادت رسیدلي دي، د دوی د یو شمېر کسانو هویت او د هغوی د وژلو د څرنګوالي په اړه مالومات وړاندې کوي او هم د نور محمد ترهکي او حفیظ الله امین له هغو ناانساني کړنو چې د خپلو خلکو پر وړاندې یې ترسره کړي، پرده پورته کوي. د لیکنې په لومړیو پاڼو کې د خلقیانو، پرچمیانو او د ترهکي او امین ترمنځ اختلافاتو ته ځغلند نظر اچوي ترڅو ښاغلي او آغلي لوستونکي د دوی پر ناوړتیاوو او ناپوهیو باندې پوه شي.

څرنګه چې فکر کېدهٔ چې په هېواد کې د افغانانو د وژنو مسؤل یوازې امین دی او د خلق دیموکرتیک ګوند نور مشران لاس نه پکې لري، په ځانګړي توګه نور محمد ترهکي چې یو معصوم او بې‌وزله شخصیت بلل کیده، په حقیقت کې د شته اسنادو پر بنسټ خبره برعکس ده، د ترهکي د واکمنۍ په لومړیو کې هغه له امین سره په تولو وژنو کې همنظره او همغږی ؤ. لکه څرنګه چې ترهکي ویل:**«لینن موږ ته راښودلي چې باید د انقلاب د دښمنانو پر وړاندې بې‌رحمه واوسو او د اکتوبر د انقلاب د بریا لپاره باید په میلیونونو انسانان ووژل شي.»**

همدارنګه د لیکنې په پای کې د امین او د هغه د کورنۍ د برخلیک یادونه هم شوې ده چې څه ډول یو ظالم د بل ظالم په لاس وژل کیږي.

د خوست د ډلهییز مړیستون د قربانیانو په هکله پراخې پلټنې او څېړنې ته اړتیا ده چې باید کلي په کلي د قربانیانو له وارثینو څخه مالومات راټول شي چې د دې کار لپاره ځانګړي امکاناتو او آسانتیاوو ته اړتیا ده، له بده مرغه چې د وخت د نشتوالي له کبله زه (لیکونکی) نه شم کولی دغه مهمه دنده ترسره کړم، بیا هم کوم مالومات چې موږ راټول کړي دي موخه مو دا ده چې د ځینو قربانیانو هویت او د دوی د وژنو څرنګوالی د تاریخ پاڼو ته وسپارو.

**د خوست ډلهییز مړیستون**

د تاریخ په اوږدو کې چې په افغانستان کې هر ډول حکومت رامنځ ته شوی دی، د خپل واک د ساتلو په موخه یې خپل مخالفین ځپلي او وژلي دي. له بدمرغه چې دا ډول کړنې زموږ د خلکو د کرکې، کینې او واک‌غوښتنې ښکارندویې کوي.

د دا ډول مستبدو حکومتونو څخه یو هم د ۱۳۵۷ل.ل کال د غوایي کودتا وه چې د حفیظالله امین په قوماندانی رامنځته شوه[1] او د حکومت مشر نور محمد ترهکي او مرستیال یې ببرک کارمل وټاکل شول.

[1]: هغه مهال چې حفیظ الله امین د کابل له راډیو څخه د پوځي پاڅون بریا اعلان کړه نو د ګوند سیاسي بیرو پرېکړه وکړه چې د کومې بدې پېښې د رامنځ ته کیدلو وړاندې باید د ګوند رهبري هوایي قرارګاه او دافعهوا (محل چنار) ته ولیږدول شي. هغه وو چې یو بس ګاډی راغی د مرکزي کمېټې غړي یې د نظامي هوايي ډګر پر لور ولیږدول. ډاکتر نجیب الله وایي چې «نور محمد ترهکی او ببرک کارمل په یوه چوکۍ، څنګ په څنګ کیناستل او زه د دوی شا ته پر څوکۍ کیناستم. د لارې په اوږدو کې ترهکي له کارمل پوښتنه وکړه چې که دا نظامي حرکت چې نن ترسره شو ناکام شي، موږ به ولسمشر محمد داؤد ته څه ځواب وایو؟ ببرک کارمل د ترهکي په ځواب کې وویل: تاسي له دې پاڅون څخه خبر وئ؟ ترهکي وویل: زه هېڅ نه وم خبر. کارمل وویل: ما هم د امین له وړانۍ څخه د دې کار په اړه هېڅ مالومات نه درلودل. څرنګه چې دا پرېکړه یې پهخپله کړي ده نو پړه یې هم د نوموړي پر اوږو ده.» (محمد اسحاق توخی: بهرنی لاس‌وهني او د افغانستان جمهوریت د ړنګېدنې ناورین. ژباړن: مومند محمدي اخڅ. ۱۵۸مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ



(نور محمد تره‌کی)

نور محمد ترهکی د خلق ګوند مشر او ببرک کارمل د پرچم ګوند مشر ؤ، له کودتا یوه میاشت وروسته خلقیانو د پرچمیانو ډله له واکه ګوښه کړه، حفیظ الله امین (چې باید ناامین وبلل شي) یو زړور، بې‌رحمه، واکـغو ښتونکی او عیاش خلقي ؤ، د ترهکي له سادګی او باور (چې پر ده یې کړی ؤ) ناوړه ګټه پورته کړه چې تر ډېره واک د امین په لاس کې ؤ، امین د حکومت صدراعظم او هم د دفاع وزیر ؤ.
خلقیانو فکر کاوه چې په افغانستان کې به د شوروي اتحاد د ستالین د تولوژنو په څېر خپلو موخو ته ورسیږي، نو د **(اګسا)**[2] په نوم یوه وژونکې اداره یې رامنځ ته کړه، نوموړي اداري ډېر واک درلود، دوی په ټشو خبرو او پرته له کوم جرم څخه د مرتجع، اخواني، پرچمي، ستمي، تنګنظره، افراطي، خان، غربـزده، جاسوس او داسې نورو نومونو خلک نیول چې په هغوی کې د هر پوړ وګړي لکه دیني پوهان (ملایان)، قومي مشران، روڼاندي او عام خلک شامل وو. سربېره پر دې، خلقیانو ډېر شمېر د اخوان‌المسلمین[3] غړي چې دوی به اخوان‌الشیاطین بلل؛ بندیان او وژل.
د پرچم ګوند لوړپوړي غړي لکه: سلطان علي کشتمند، جنرال محمد رفیع، جنرال عبدالقادر، شاه پور احمدزی، میرعلي اکبر او نور چې د ترهکي په حکومت کې یې دندې درلودلې، بندیان او په اعدام محکوم کړل او پاتې نور ډېر پرچمیان چې په هغو کې د هېواد پیاوړی شاعر او لیکوال اکاډمیسین سلیمان لایق هم ؤ، د پلچرخي په زندان کې بندیان کړل.
د خلق او پرچم ډلې چې مرام او موخې یې یو وې خو شوروي استخباراتو (کې. جي. بي) په دوو ډلو ویشلې وو، ډېر کلونه وړاندې داؤد جنبش چې هغه مهال د (بي. بي. سي) خبریال ؤ، د شوروي د (کې. جي. بي) له مرستیال سره په دې اړه مرکه کړې وه، د (کې. جي. بي) مرستیال وویل:«موږ په افغانستان کې د چین له نفوذ څخه داسې په وېره کې وو لکه د اور، نو د دې لپاره مو دا ګوند په دوو برخو وویشلو چې که یوه خوا ماویستان شي نو دا بله ډله به زموږ پلوي وي او ... .»



(د افغانستان سل ورځنی دیکتاتور)

سره له دې چې خلقي ډلې د چین له ماویستانو سره څه اړیکې یا خواخوږي نه درلوده خو د شورویانو تر شک لاندې وه نو شورویانو د پرچمیانو ملاتړ کاوه، له دې امله شورویانو د پرچمیانو پر زنداني کېدلو او وژلو خواشینې څرګنده کړه، هغه وو چې په کابل کې شوروي سفیر( ا. م. پوزانوف) له ترهکي وغوښتل چې بندي پرچمیان ونه وژني:«پوزانوف د شوروي مشرانو په استازیتوب له ترهکي غوښتنه وکړه چې دوه تنه نیول شوي [پرچمیان] کشتمند او قادر دې ونه وژل شي.»
ترهکي وویل:«هغوی ډېر ستر جرم کړی دی، هغوی د چین او امریکا متحده ایالاتو په مرسته یوه منظمه دسیسه تر لاس لاندې نیولې وه، زه له تاسو سره همغږی یم چې **خپل یوه پیاوړي وسله ده، لینن موږ ته راښودلې چې باید د انقلاب د دښمنانو پر وړاندې بې‌رحمه واوسو او د اکتوبر د انقلاب د بریا لپاره باید په میلیونونو انسانان ووژل شي،** که دغه وسله په زغرده او پرېکنده ډول په کار یووړل شي، هغسې چې پرون د کابل د الګولې[4] په څېلو کې وکارول شوه چې پایلې یې په بشپړ ډول څرګندې دي.»[5]

---

[2]: (اګسا) د افغانستان د ګټو ساتلو اداره.
[3]: د اخوان‌المسلمین ګوند بنسټ په مصر کې د حسن‌البنا لخوا په ۱۹۲۹ز، کال کې کېښودل شو، په افغانستان کې غلام محمد نیازی د اخوان‌المسلمین مشر ؤ چې وروسته له هغه، برهان‌الدین رباني، عبدالرب رسول سیاف، ګلبدین حکمتیار د اخوان‌المسلمین په پیروۍ ګوندونه رامنځته کړل. خو په خوست کې خلقیانو ټول ملایان چې د اخوان‌المسلیمن غړي هم نه وو، اخوانیان بلل.
[4]: ترهکي د کابل د چنداول د قزلباشانو او هزارګانو پاڅون ته اشاره کړي ده چې د ۱۳۵۸ل. ل، کال د چنګاښ په ۲یمه نېټه رامنځ ته شو، لاریون چې د میوند په جاده کې تر سره شوی ؤ، د امنیتي ځواکونو لخوا تر ډزو لاندې راغی، ډېر کسان ووژل شول او ډېر ټپیان شول، وروسته د ځو ورځو په اوږدو کې حکومت د کابل ډېر قزلباشان او هزارګان ونیول او بندیان یې کړل، زیات شمېر یې په زندان کې ووژل شول او ورک شول.
[5]: واسیلي میتروخین: کې. جي. بي، په افغانستان کې. ژباړن: رحمت آریا. ۹۴مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د خلقي حکومت د خلکو د نيولو او وژلو په لړۍ کې د ۱۳۵۷ل.ل کال د غبرګولي په مياشت کې د بلخ د ولايتي کميټې منشي په امر په سوونو کسان ونيول شول، په داسې حال چې د مخالفينو د نيولو دنده د هغه مسؤليت نه ؤ، په دې هکله د شوروي د (کې. جې. بې) پخوانی مهم غړی واسيلي ميتروخين ليکي:«د ۱۹۷۸ز. کال د مې په مياشت کې د بلخ په ولايت کې نهه سوه اوسيدونکي د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د ولايتي کميټې د لومړي منشي عبدالله احد (اوموسي)[؟] په امر د غوايي د انقلاب د دښمنانو په تور ونيول شول... هغوی تر بوړنوونکو وهلو ټکولو او ځورولو لاندې ونيول شول، د جون په نيمايي کې له کابله امر وشو چې ټول نيول شوي کسان دې پلازمېنې کابل ته واستول شي، د دغو کسانو د شمېر په وخت کې وموندل شوه چې د نيول شويو کسانو شمېر لږ شوی دی، هره شپه له ۵۰تر۶۰ تنو پورې په مزار کې د ۱۸مې فرقې[6] له پلوه وژل کېدل، **هغوی به چې وروسته له ځو شپيو وژل کېدل، اړ ايستل کېدل چې خپل قبرونه [مريستنونه] په خپل لاس وکيندي**... د زندان اداري به [د وژل شويو کورنيو] ته ويل چې نيول شوي نارينه د شوروي اتحاد سوسيالستي جمهوريتونو د اورال او سابيريا سيمو ته د شاقه کارونو لپاره لېږل شوي دي.»[7]


(ببرک کارمل)

حفيظ الله امين چې يو متکبر، واکغوښتونکی او لنډفکره کس ؤ، واک ته د رسيدو په موخه په هېڅ ډول ناروا کړنو نه ؤ تړلی، امين چې ترهکی يې نابغه او خپل استاد باله او ترهکي هم وفادار شاګر ورته ويل، هغه وو چې د ترهکي دغه وفادار شاګرد په دې هڅه کې شو چې د خپل نابغه استاد ځای ناستی شي او د هغه د وژلو پلان يې جوړ کړ خو ترهکی د هغه له موخې خبر شو. هغه ورځ چې شوروي سفير غوښتل د ترهکي او امين تر منځ روغه جوړه رامنځ ته کړي. امين يې ارګ ته وغوښت، امين په احتياط سره ارګ ته دننه شو او وړاندې له هغې چې د ترهکي دفتر ته ننوځي، سيد داؤد تړون او زيرک نومی کس يې د حالاتو د څارنې لپاره مخکې واستول، تړون د ترهکي له ساتونکو سره وران شو، ساتونکو پر تړون ډزې وکړې، هغه يې وواژه او زيرک ټپي شو. ځيني کسان وايي چې د (اګسا) رئيس اسدالله سروري چې د ترهکي پلوی ؤ، د امين د وژلو پلان ترتيب کړی ؤ چې کله امين ارګ ته دننه شي نو ودې وژل شي. د ۱۹۷۹ز، کال د سپتامبر په ۱۴مه نېټه، شوروي سفير پوزانوف او ورسره مله کسان چې د ترهکي په دفتر کې د امين راتګ ته په انتظار وو «ملري ب. س. ايوانوف [ترهکي ته] وويل چې ګنګوسې داسې وايي چې کله امين د خلکو کور [ارګ] پر انګړ پښه کېږدي ودې وژل شي.» ترهکي وويل:«دا درواغ دي.»

شوروي سفير پوزانوف زياتوي:«څو شېبې وروسته د ترهکي د دفتر د دروازې تر شا مو د سپکو ماشينګنو ډزونه تر غوږونو شول، ملګرى ل. ن. ګوريلوف کړکۍ ته نږدې ورغی، ويې ليدل چې امين د ترهکي د استوګنځي د دېوال تر څنګ په ځغاستو دی... .» (د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ:کې. جې. بې، په افغانستان کې. ۱۳۶مخ او نور)

دا پېښه د امين لپاره ښه پلمه شوه چې ګواکې ترهکي د هغه د وژلو هڅه کړې ده، هغه وو چې امين د ګوند د مرکزي کمېټې د پلينوم غونډه جوړه کړه، ترهکی يې له دندې ګوښه او امين د ګوند عمومي منشي په توګه وټاکل شو.

د ۱۳۵۸ل.ل کال د تلې په ۱۶مه نېټه، دغه وفادار شاګرد خپل نابغه استاد په ډېرې بې‌رحمۍ سره وواژه داسې چې وينه يې ځمکې ته تويه نه شوه، د امين سرېږوژونکو د ترهکي لاسونه او پښې وتړل او بيا يې د هغه پر خوله باندې بالښت کېښود، سا يې وربنده او مړ شو.

دا مهال د ترهکي درې تنه پلوي وزيران هر يو:اسلم وطنجار، سيد محمد ګلابزوی او اسدالله سروري په کابل کې شوروي سفارت ته پناه وړې وه. «درې تنه وزيران په پټه د سفارت ځانګړي پوځي ټولي (زينت) ته ولېږدول شول، د هغوی پېژندبنې ته [د (کې. جې. بې) د اووم رياست سنګارګرو د دوی څېرو ته بدلون ورکړ.] **د هغوی بريتونه وخرييل شول**[8] او پوځي جامې ورواغوستل شوې.»[9]

«ګلاب زوی او وطنجار ته د (کې. جې. بې) د زينت ټولي د سرتېرو پاسپورټونه برابر شول او د شوروي د سرتېرو په جامو کې اوسيدل.»

---

[6]: د افغانستان په ډېريو ولايتونو کې د خلکو وژنې په پوځي پوليګونونو کې ترسره کيدلې، ځکه چې خلکو فکر کاوه چې دا د معمول په څېر ورځنۍ تمريني ډزې دی.
[7]: کي. جي. بي، په افغانستان کې. ژباړن: رحمت آريا. ۸۵-۸۶مخونه

[8]: هغه مهال بريتونه خلقيانو ته دومره مهم وو، لکه ملايانو ته چې ږيره اهميت لري.
[9]: کې. جې. بې، په افغانستان کې. ژباړن: رحمت آريا.۱۶۶مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

خو د اسد الله سروري څېرې ته يې بدلون ورنه کړای شو چې له ورايه پېژندل کېده، هغه وو چې هغه يې په تابوتډوله صندوق چې اکسيجن هم په کې ځای شوی وو، پټ کړ. د (کې. جي. بي) پخوانی مامور واسيلي ميتروخين ليکي:«سروري د بدلي شوي څېرې د ښکاريدلو د خرڅوالي لپاره د ميشتي ځارګرې ځانګې له پلوه يو بکس، سره د اړينو توکو ورته برابر شو. نه مونډل کيدونکي توکي له مرکزه ترلاسه شول. په بکس کې د غړنی ژغورنې څلور د اکسيجن ډبې [ځای‌پرځای] شوي وې چې د شپږو ساعتونو لپاره يې بسنه کوله.»[10]

کله چې دوی ته يې څېرې وربدلې او د شوروي سرتېرو په نوم اسنادو برابر کړل نو د بګرام له هوايي ډګره د اوزبکستان د تاشکند ښار ته واستول شول... .

وروسته له هغې چې امين د ګوند او دولت مشري ترلاسه کړه، لومړی کار يې دا وکړ چې **د هغو ۱۲زرو وژل شويو افغانانو نومونه يې خپاره کړل چې د امين او ترهکي لخوا د تېرو اتلسو مياشتو په موده کې وژل شوي وو، امين د وژل شويو تووله پړه پر ترهکي واچوله چې ګواکې د هغه په امر دا خلک وژل شوي دي.**

امين د (اګسا) اداري پر ځای د **(کام)**[11] په نوم يو ترهګر سازمان جوړ کړ او مشري يې خپل وراره او زوم اسدالله امين ته ورکړه، نومړي اداري ته له اګسا څخه لا زيات واک ورکړای شو، د کام کارکوونکو کولی شول په خپل سر د امين مخالفين ونيسي او ويې وژني چې د دا ډول وژنو ډېرې بېلګې شتون لري.

دا مهال امين هغه خلقيان هم وژل او بنديانول چې د ترهکي پلوي يې کوله او د ترهکي پر مرګ خواشيني وو خو تر تولو يې د اخوانيانو، پرچميانو او ستميانو[12] ډلې سختې وځپلې تر دې چې د ستميانو مشر، طاهر بدخشي يې وواژه. د پرچميانو له لوړپوړو کسانو څخه سليمان لايق چې د خلقي حکومت په لومړيو کې د راډيو ټلويزيون مشر ټاکل شوی ؤ، د امين لخوا د پلچرخي په زندان کې له نورو لوړپوړو پرچميانو سره بندي ؤ، سليمان لايق د زندان يوه خاطره زموږ يو خپلوان ته ويلې وه چې *«يوه ورځ د امين قصابانو يو هندو د اخوانې په نوم راوست، هندو که هر څو زاری کولې چې (زه مسلمان نه يم، هندو يم) خو هغوی به ويل: نه، ته اخوانې يې ځکه چې ملګرو ويلې دي. په پای کې خبره دې ځای ته ورسيده چې امينيانو وويل: که اخوانی نه يې نو پرچمی خو خامخا يې.»*

سليمان لايق چې د افغانستان او سيمې د پښتو او دري ژبو ستر او محبوب شاعر دی، لاندې شعر د هغو کسانو په ياد ويلی دی چې د امين سرېوژونکو لخوا به د پلچرخي له زندانه په توره شپه کې وژنتونونو ته وړل کېدل:

**به ياد شبرفته گان**

*گمان مدار که شبرفته‌گان فراموش اند*
*ز رزم شب سپران خاطرات می ماند*
*زمانه هر چه به ما داد باز بستاند*
*ز زندگی دو سه حرف ثبات می‌ماند*
*متاع عمر يکی کاروان درگذر است*
*نبرد مرد به بام حيات می‌ماند*
*فدای غيرت آن پيشتاز جادهٔ خون*
*که نقش او چو سرود نجات می‌ماند*

(زندان پلچرخي، ۳ عقرب ۱۳۵۸)[13]

زه (ليکوال) چې په ۱۳۵۸ل. ل کال کې د شپاړلسو کالو په عمر وم، په ياد مې دي چې زموږ مشرانو به په خواشينی سره د هغو کسانو نومونه يادول چې د خلقي حکومت لخوا نيول شوي او ورک شوي وو چې په هغو کې زموږ د سيمې مشهور او لوی ديني عالم **سيد سلطان شاه، مشهور په (پاچا) مولوي صاحب** ډېر ياديده چې د سيمې په کچه خورا پياوړی عالم ؤ، مولوي صاحب د کابل پوهنتون د شرعياتو په پوهنځی کې استاذ ؤ او د عدليې په وزارت کې يې دنده

---

[10]: کې. جي. بي، په افغانستان کې. ژباړن: رحمت آريا. ۱۷۶-۱۷۷مخونه.
[11]: (کام) د کارګرانو اطلاعاتي موسسه.
[12]: د ستميانو ډله د پرچميانو په څېر له خلق ګوند څخه د طاهر بدخشي په مشری بېله شوه چې اصلي نوم يې (سازمان زحمتکشان افغانستان) ؤ او په لنډو يې (سازا) باله.
[13]: د اکاډميسين سلمان لايق شعري ټولګي (بادبان) څخه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

هم درلودله، مولوي صاحب د پلخشتي په جومات کې ونیول شو او بیا په نامالوم حالت کې ووژل شو. (۱۳۵۷ل. ل، کال) [14]


(شهید سید سلطان شاه، مشهور په (پاچا) مولوي

هغه مهال خوست د پکتیا ولایت اړوند لویه ولسوالي وه خو تر ټول افغانستان یې سخت افراطي خلقیان درلودل، که ربښتیا ووایو د خوست ډېرى خوستوال چې په هره ډله ټپله پورې اړه ولري، افراطي کړنې ترسره کوي.
په هر حال، د غوایي له کودتا راوروسته په خوست کې د څو میاشتو یا د یوه کال په اوږدو کې له۸۰ تر ۱۰۰کسانو پورې دیني پوهان، قومي مشران او روڼاندي ونیول شول، په دغو نیول شویو کسانو کې د حیدرخېلو د قوم پیاوړی مشر **حاجي عبدالهادي** ونیول شو چې بیا یې هیڅ مالومات ونه شول.
ــ د مولوي صاحب کلیم الرحمن پلار، **مولوي آزاد خان** د مندوزیو اوسیدونکی چې د صبریو په یو کلي کې د جومات امام ؤ د حکومتي عسکرو لخوا ونیول شول. ــ د منګلو په سیمه کې **نیازمیر خان د خان ګل زوی**، د موسیخېلو ولسوالی د څنډي کلي اوسیدونکی، د ۱۳۵۸ل.ل کال د وري میاشتي په ۱۶مه نېټه د خلقي څواکونو لخوا ونیول شو.
ــ **حاجي خان‌الدین د مادین زوی** د نادرشاه کوټ ولسوالی د الماري کلي اوسیدونکی، هغه مهال ونیول شو چې نوموړی د ځدرانو یو بل قومي مشر **حاجي سالم** چې حکومت بندي کړی ؤ، د هغه د خلاصون په موخه قوماندانی ته تللی ؤ.
ــ **استاد بابری** چې د ارنخېلو د تورو اوبو اوسیدونکی ؤ، د دولتي څواکونو لخوا ونیول شو، معلم صاحب بابری ما (لیکوال) ډېر ځله لیدلی ؤ چې ډېر مهربان او دروند شخص ؤ، هغه زما د مرحوم کاکا عبدالستار اخګر[15] نږدې ملګری ؤ.
ــ د لاکنو اوسیدونکی **یوسف جان** چې د اردو افسر ؤ، هم ونیول شو، د یادولو ده چې استاد بابری او یوسف جان یې د پرچمیانو په نوم ووژل.
حاجي منداییر منګل د نیارمیر خان زوی، د خپل پلار د نیولو په اړه وویل چې هغه یې د ۱۳۵۸ل.ل کال د غوایی میاشتي په ۶مه نېټه د شپې په ۱۱بجو چې په سبا یې د غوایي ۷مه، د خلقیانو د جشن او خوشالی ورځ وه، له زندانه وایستل شو چې له هغې وروسته یې مالومات ونه شول.

---

14: بده خو لا دا چې د مولوي صاحب دوه ورونه هر یو مولوي محمد سعید شاه او مولوي میر جهان شاه، مشهور په ډاکټر مولوي، د ۱۳۶۱ل. ل، کال د مرغومي میاشتي په ۱۱مه نېټه د جهادي تنظیمونو لخوا په دې پلمه په خپل کلي کې ووژل شول چې ولې پاکستان ته کډې (هجرت) نه کوي، په داسې حال کې چې دواړه مولوي صاحبان له حکومت څخه سخت په ویره کې وو ځکه چې وړاندي یې د دوی ورور مولوي صاحب پاچا وژلی ؤ، نو نه یې شوای کولی چې په هغه شرایطو کې هجرت وکړي، دوی منتظر وو چې په مناسب وخت کې هجرت وکړي.
د دغو دوو ورونو په وژل کیدلو باندې د خوست ټول اوسیدونکي ډېر خواشیني وو، داسې څوک نه ؤ چې د دوی پر قاتلینو یې لعنت نه وي ویلی، خوست میشتو په خواشینی او کرکې سره ویل چې د مولوي صاحب پاچا د قاتلانو او د ده د بې‌ګناه ورونو د قاتلانو ترمنځ هیڅ توپیر نه شته، په دې دلیل چې دواړو د دین عالمان، پرته له کوم جرم څخه شهیدان کړي دي.
15: مرحوم استاد عبدالستار اخګر په کابل کې د پوهنې په وزارت کې د سواد زده‌کړې د عمومي مدیریت (چې اوس هغه اداره د سواد زده‌کړې معینت په نوم یادیږي) مرستیال ؤ خو کله چې خلقیان واکمن شول نو هغه یې په خوست کې د نسوانو په ابتدائیه ښوونځي کې د معلم په توګه وټاکه، په داسې حال کې چې مرحوم استاد د ۱۳۴۵ل.ل کال د تاریخ او جغرافیې لیسانس ؤ او په ۱۳۶۲ل.ل کې میرانشاه ته مهاجر شو، له بده مرغه چې هلته د ګلبدین حکمتیار قصابانو لخوا ونیول شو، څو میاشتي یې په زندان کې په بد حالت کې تیرې کړی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ


(شهيد نيازمير خان منگل)

د حاجي منداپير له وينا دې پايلې ته رسيږو چې نيول شوي کسان چې شمېر يې (۸۰ او ۱۰۰) کسانو ته رسيده، د ۱۳۵۸ل.ل د غوايي مياشتې په ۷مه شپه د خوست ولايت په پخواني پوليګون کې ووژل شوي وي چې د هماغه ځای، په يوه څنډه کې سر په سر په يوه کنده کې ښخ کړای شوي وو. د دغو وژل شويو کسانو دلهپيز مړيستون وروسته له (۴۴) کلونو، هغه مهال وموندل شو چې حکومت د پخواني پوليګون تر څنګ د اوبو يو کوچنی بند جوړاوه. د دغو وژل شوی کسانو هډونه له هغه ځايه د خپلو وارثينو او ښاروالی په مرسته راوايستل شول او د خوست د شهيدانو په هديره کې خاورو ته وسپارل شول. پورته مالومات د هغو ورک شويو خوست ميشتو چې شمېر يې لسګونو کسانو ته رسيږي د (مشت نمونه خروار) په توګه وړاندې شول. بايد ووايو چې ظلم د عدل پر خلاف يو عمل دی، ظلم د نړۍ په ټولو اديانو کې منع دی، هر ظالم او بېرحمه هغه که هر څوک وي او په هره دله ټپله پورې اړه ولري د خدای (ج) له مجازاتو ځان نه شي ژغورلی، الله تعالی ظالمانو ته هم په دې نړۍ او هم په اخرت کې سزا ورکوي، ربالعالمين فرمايي:

﴿ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾

ژباړه:«دا ذلت او سپکاوی د هغو لپاره په دنيا کې دی او په اخرت کې د هغو لپاره لويه سزا ده.» (مايده:۳۳)

﴿يُعَذِّبْهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ﴾

ژباړه:« الله به ډيره دردناکه سزا هم په دنيا او هم په اخرت کې ورکړي.» (توبه:۷۴)

لکه څه ډول چې ترکي، امين او نورو خپل خلک په ظلم او بېرحمی سره وژلي وو، همداسې دوی هم په ظلم او بيعزتی سره ووژل شول. قرآن کريم د دا ډول ظالمانو په اړه وايي:

﴿وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾

ژباړه: «او هم داسې مسلطوو موږ ځيني ظالمان پر ځينو (نورو) په سبب د هغو اعمالو چې دوی به کول.» (انعام: ۱۲۹)

د ترکي برخهليک مو وليد چې په څومره ناهيلی سره د خپل وفادار شاګرد لخوا ووژل شو، دا سزا د الله تعالی لخوا د هغه د جنايتونو په بدل کې ورکړل شوه.

**پاتې شو حفيظ الله امين:**

وروسته له هغې چې نوموړي بېساري او بېشمېره جنايتونه ترسره کړي وو او همداسې يې دوام درلود، يوه ورځ غرمې مهال يې د تاجبېک په ماڼی کې د ګوند د سياسي بيرو غړي او د حکومت وزيران ميلمانه کړي وو، امين د شورويانو پر راړوانو پوځي مرستو خوشاله ؤ، هغه په ډېر وياړ سره ميلمنو ته ووېل:**«شوروي فرقې همدا اوس زموږ خوا ته راروانې دي، هر څه ببخي سم پرمخ درومي.»**[16]

امين چې د خپل کبر او غرور له امله ړوند او احمق شوی ؤ، په دې نه پوهېده چې د شورويانو پوځ د ده د وژلو لپاره راروان دی. په دغه ميلمستيا کې امين او ګڼ شمېر ميلمانه يو ناڅاپه ناروغه شول او يو شمېر بېهوښه هم شول چې پهخپله امين سخت بېهوښه شو چې درملنې ته يې روسي ډاکټران په بېخبری کې ورغلل او د هغه مهال د څلورسوه بستريز روغتون رييس خوستوال ډګرمن ولايت خان هم ورسره مل ؤ.

---

16: جنرال الکساندر لياخوفسکي: د افغان ميرانه او غميزه. ژباړن: محبالرحمن. ۲۱۳مخ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

«... خو شپېه لا نه وه تېره چې ګورې ح. امين په داسي حال کي چې د اور لمبو او لوګيو تکتور کړى ۏ په ډيوډى (دهلېز) کي روان دى، هغه سپين نيکر او (کميس لاندي = زيرپيراهن) اغوستي وو او د سيروم کڅوړې چې ستني يې د ده په لاسونو کي ټومبل شوي وې، د لاسي بمونو په څېر ځګې نيولي وې.»[17] دا مهال «ح. امين خيل سرياور ته امر وکړ چې شوروي پوځي سلاکارانو ته ټيليفون وکړي او هغو ته پر مانۍ د بريد خبر ورکړي، زياته يې کړه:**«شورويان به له موږ سره مرسته وکړي.»** خو سرياور ورغبرګه کړه: همدا پخپله شورويان دي چې ډزې کوي. دې خبرې د عمومي منشي [امين] د زغم کاسه لا پسي ډکه کړه ايرنۍ (خاکستردانی) ته يې لاس کړ او پر سرياور يې له ګوزار سره سم چيغه کړه:«دروغ وايې، داسي نه شي کېدای!» بيا يې پخپله هڅه وکړه چې لوی درستيز او د څلورمي زغروالي لوا قوماندان ته ټيليفون وکړي. خو له هغو سره اړيکي لا تر مخه پرې شوي وو او چې دا کار ونه شو نو په ورو يې وويل:«ما هم همداسي انګېرله او دا دی ګومان مي ربښتيا راوخوت.»[18]



(شهيد حاجي خان‌الدين ځدران)

«په همدې وخت کي د (کې. جي. بي) ځانګړي ډله هغي خوني ته چې حفيظ‌الله امين په کي ۏ ورننوته او د ډزو په ترڅ کي نوموړی د همدې ډلي د يوه افسر لخوا ووژل شو. وروسته يې د (ا. د. ج. د) حکومت او د (ا. خ. د. ګ) **د مشر مړی يې په يوه غالۍ (قالينه) کي تاو کړ.»**[19]

د ۱۹۸۰ز. کال له جولای مياشتي وروسته د تاجبېک په مانۍ کي د شورويانو د ځلوېښتم لښکر قوماندانۍ، ځای‌پرځای شوه. د شورويانو په دې يرغل کي د امين يوه لور ټپي او دوه کوچني زامن هم ووژل شول، شوروي جنرال الکساندر لياخوفسکي ليکي:«په پای کي (زموږ پوځيانو) وژل شوي افغانان او د هغوی په ډله کي د ح. امين دوه کوچني زامن هم تاجبېک مانۍ [...] ته څېرمه په يو ډلهييز ګور [مريستون] کي تر خاورو لاندي کړل. خو د ح. امين مړی چې په يوې غالۍ کي تاو کړای شوی ۏ، د کنډک د سياسي مرستيال په مشرۍ د شپې له خوا هملته خو له نورو نه بېل ښخ کړای شو. پر ګور يې هېڅ نښه او شناختي ونه درول شوه او د کورنۍ ژوندي پاتي شوي غړي يې د ن. م. ترمکي د کورنۍ پر ځای د څرخي پله زندان ته واچول شول، آن د امين لور چې د ډزو په ترڅ کي پر پښه لګېدلي وه هم د څرخي پله د کوټې پر ساړه سمنټي غولي کي بنديوانه شوه.»[20]

د امين له وژل کېدو وروسته د ببرک کارمل د واکمنۍ پر مهال د اشرارو په نوم د خلکو وژل او شکنجې رواني وې، دغو وژنو د امين له وژنو سره يوازې دا توپير درلود چې د اختصاصي څارنوالۍ او اختصاصي محاکمو له حکم وروسته به **د انقلابي شورا رييس ببرک کارمل په لاس‌ليک خلک وژل کېدل، نور نو (خر هماغه خر ۏ، يوازې کته يې بدله وه.)**

وايي چې څوک چې له خپل تاريخ څخه زدکړه نه کوي هغوی په خپلو کړنو کي ناکام دي، بايده دي چې اوسنی او راتلونکي حکومتي چارواکي د افغانستان د معاصر تاريخ له پېښو ګټه پورته کړي، که څوک پر خپلو خلکو ظلم وکړي نو په دې باندې بايد پوه شي چې پر دوی به الله تعالی نور خلک مسلط کړي، په دې هکله الله تعالي موږ ته ښکاره خبر راکړی دی:

﴿وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا آخَرِينَ﴾

ژباړه:«څومره سيمي (کلي) چې د هغو خلک ظالمان وو، موږ وران او ويجاړ کړل او له هغو وروسته موږ بل قوم راپورته کړ.» (انبياء: ۱۱)

---

17:هماغه کتاب: ۲۲۳مخ
18:هماغه کتاب. ۲۲۴-۲۲۵مخونه
19:هماغه کتاب: ۲۲۵مخ
20:جنرال الکساندر لياخوفسکي: د افغان ميرانه او غميزه. ژباړن: محب‌الرحمن. ۲۳۳مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ





(د شهیدانو هډونه او ورسره توکي)

نېټه:۱۴۰۲/۱۲/۳ل. ل

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ